


# ځواني څنګه تېره کړو؟

(پښتو)

Download from:aghalibrary.com

بیان: 2

شیخِ طریقت، امیرِ اہلسنّت، بانیٔ دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال
مُحَمَّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي دامت برکاتهم العالیة

په (۱۸ ربیعُ الاوّل ۱۴۱۲ھ بمطابق 26 ستمبر 1991ء پنجشنبه) په هفته واره سنّتو نه ډکه اجتماع کښې د دعوتِ اسلامي په رومبي مدني مرکز جامع مسجد ګلزارِ حبیب (ګلستانِ اوکاړوي بابُ المدینه کراچي) کښې "د ځوانۍ د عبادت فضائل" په عنوان بیان فرمائیلې وو، چه د هغې په مدد سره دا رساله د نوي مواد د کالې اضافې سره ترتیب کړې شوې ده. (مجلس المدینة العلمیه)

# ځواني څنګه تېره کړو؟

از : شيخ طريقت امير اهلسنت، بانئ دعوتِ اسلامي

**علامه، مولانا، ابو بلال محمد الياس عطار قادري، رضوي**

دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه

## دَ ترجمې پيشکش:

مجلس تراجم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالې د اُردو نه په آسانه پښتو ژبه کښې د وس مناسب د ترجمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي يا کمې زياتې اومومئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلس تراجم ته د هغې خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.


اول ځل: جماد الاول ١٤٣٦ھ، مارچ 2015ء تعداد:

مجلس تراجم دعوتِ اسلامي



عالمی مدنی مرکز فيضانِ مدينه محله سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المدينه کراچی، پاکستان

UAN: ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 1262

Email: translation@dawateislami.net



www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# ځواني څنګه تيره کړو؟

(شيطان که هر څومره ناراستي درولي، دا رِساله پوره اولولئ. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د اجر و ثواب موندلو سره سره به د ځوانئ د عِبادت، د دې د قدر او اهميّت پيژندلو موقع په لاس درشي)

## د درود شريف فضيلت

د شَهَنشاهِ مدينه، قرارِ قلب و سِينه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ خيريت نِشان دې:" اے خلقو! بيشکه په تاسو کښې به د قيامت په ورځ د هغې د يرو او حساب کتاب نه زر خلاصې موندونکې هغه کس وي، چا چه په دنيا کښې په ما باندې په کثرت سره درود لوستلې وي.
(جمع الجوامع ج9 ص129 حديث 27686)

حشر کی تیرگی سیاہی میں نُور ہے، شمعِ پُرضیا ہے دُرُود
چھوڑیو مت دُرُود کو کاتی راہِ جنّت کا رَہنُما ہے دُرُود

کښې د قيامت په هغه تورو تيَرو نُور دې، شمع ده، رنړا دې دُرود
مه پريږده ته درود وئيل کافي لارِ د جنّت کښې رهنُما دې دُرود

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

# په ځوانۍ پسې ګرځېدل

یو حِکایت بیانیږي چه یو بوډا سړې په یو ځای تیریدلو، د بوډاوالي په وجه د هغه ملا دومره ټیټه شوې وه چه روان به وو نو داسې به ښکاریدو لکه په زمکه چه څه څیز لټوي. یو زلمي ورته د ټوقو په انداز کښې اووئیل: بابا! څه درنه ورك شوي دي؟ خبره خو غصّه راوستونکې وه خو هغه بوډا د ډیر صبر، برداشت او پوهه نه کار واغستو او د ټوقې د دې زهرجن ازغي په جواب کښې ئې ورته فکر کښې اچونکې مدني ګلونه وړاندې کړل او او ئې فرمائیل: "ځویه! په خپله ځوانۍ پسې ګرزم."

د ترخې خبرې دا د توقع نه خلاف حیرانونکې جواب ئې چه واوریدو نو زلمې یو دم حیران شو او وئیل ئې: باباجي! زه ستاسو په خبره پوهه نه شوم، آیا ځواني هم کله بیا د موندلو شي دې؟ او آیا دا یو ځل د ورکیدو نه پس بیا کله چا موندلې ده؟ اوئې فرمائیل: ځویه! هم دا خو افسوس دې چه کله د ځوانۍ نعمت زما سره وو هغه وخت مې د هغې حفاظت او نه کړې شو او نن چه هغه زما نه لاړه نو اوس ما ته د هغې د اهمیّت احساس اوشو.

کاش چه ما ته د ځوانۍ زمانه یو ځل بیا په لاس راغلې وې نو پخوا د کړو غلطیانو او د سستۍ کولو تلافي به مې کړې وې [یعنې کمې

www.dawateislami.net

به مې پوره کړې وې] او ښه د زړه په شوق به مې د الله عَزَّوَجَلَّ عِبادت کولې.

اَلَا لَیْتَ الشَّبَابَ یَعُوْدُ یُوْمًا
فَاُخْبِرُهٗ بِمَا فَعَلَ الْمَشِیْبُ

يعني كاش چه! زما ځواني كله په بيرته راګرزيدلې وې، نو ما به هغې ته وئيلې وې چه بوډاتوب زما سره څه سلوك اوكړو.

بيا ئې يو د افسوس اسويلې اوكړو او ئې وئيل: افسوس چه! ما د خپلې ځوانئ دولت بخپله لوټ كړو، خو! "**د ورځ نه تيرې شوې اوبه په بيرته نه راځي.**" ما د ځوانئ قدر اونه كړو، نه مې پكښې څه نيكئ اوكړې او نه مې پكښې د آخرت څه تياري اوكړه او زما ځواني هسې د غفلت په كټ كښې په اودو تيره شوه.

دن بھر کھیلوں میں خاک اُڑائی
لاج آئی نہ ذرّوں کی ہنسی سے

شب بھر سونے ہی سے غرَض تھی
تاروں نے ہزار دانت پیسے

توله ورځ به ځه په خاورو لوبيدمه — هم د شكو په خندا نه شرميدمه
شپه او ورځ به مې د خوب سره غرض وو — هم د ستورو په پيغور نه پوهيدمه

www.dawateislami.net

**اوس** چه راباندې بوډاوالې راغلې دې نو صحت مې خراب او بدن مې کمزورې شو، د عبادت د زيات والي شوق خو مې پيدا شو خو د بوډاوالي په وجه مې حوصله ختمه شوه.

بيا هغه ضعيفه کس په هغه زلمي باندې انفِرادي کوشش کولو کښې اووئيل: ځويه! د الله عَزَّوَجَلَّ په فضل او احسان ته لا اوس زلمې ئې، د دې نه فائِده واخله، عبادت ته ملا کلکه اوتړه او د ملا د ټيټيدو نه مخکښې د الله تعالىٰ په بارګاه کښې سر ټيټ کړه، ګنې په بوډاتوب کښې به زما په شان په ټِيټه ملا په ځوانئ پسې ګرځې خو د افسوس او پښيمانتيا نه سِوا به هيڅ هم په لاس نه درځي. د افسوس لاسونه به مروړې خو په لاس به هيڅ هم نه درځي او د حالاتو سره به څه په دې ډول مخامخ کيږې [يعني داسې افسوس به کوې چه]:"ماشوم والې مې په لوبو کښې بيالودو، ځواني مې په خوبونو کښې تيره کړه او، اوس بوډاوالي ته ژاړم."

د مهربانئ او نصيحت په دې انداز کښې خبرو اترو او د انفرادي کوشش د مدني ګلونو خوشبو د هغه زلمي په زړه او دماغو ډير زيات اثر اوکړو. لږ ساعت مخکښې هغه بوډا د ټوقې په تير باندې ويشتونکې زلمې د انفرادي کوشش نه متاثِره شوې وو او اوس ئې د هم هغه بوډا په مخکښې د آئِنده د پاره د ځوانئ د قدر کولو او د پرهيزګارئ د ژوند تيرولو وعدې او لوظونه کول.

شهزاده اعلٰحضرت، مُفتیٔ اعظم هِند مولانا مُصطفٰی رضا خان عَلَیْهِ رَحْمَةُ الرَّحْمٰن په خپل نعتیه دِیوان ”سامانِ بخشش“ کښې د ژوند د قدر کولو درس په دې انداز کښې فرمائي:

ریاضت کے یہی دن ہیں، بُڑھاپے میں کہاں ہمّت
جو کچھ کرنا ہو اَب کرلو، ابھی نُوری جَواں تم ہو

د ریاضت او عبادت دي هم دا ورځې،
چا کښې نه وي بوډا توب کښې بیا هِمّت

که کوې نو اوس دِ وخت د عبادت دې،
ځکه ئې چه ته نُوري اوس په ځوانۍ کښې

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰى مُحَمَّد

## د کانړې په جواب کښې ګل پیش کړئ!

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! بیان کړې شوې حکایت کښې د عبرت او نصیحت ډېر قیمتي مدني ګلونه دي. په هغې کښې یو مدني ګل دا دې چه که څوک د اعتراض په انداز کښې یا د ټوقو په انداز کښې په تاسو پورې څه خبره اوکړي نو د خبنتې جواب په کانړې سره د ورکولو په ځائ د صبر او برداشت نه کار واخلئ. د موقع په مناسبت سره په ښه طریقه د پوهه کولو کوشش او د زهرجنو ازغو په جواب کښې د مدني ګلونو د وړاندې کولو سُلوك به اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ تاسو په مدني نتیجو راتلو

www.dawateislami.net

کښې کامیاب کړي بلکه د دې مدني مقصد په لاره کښې به اسانیانې پیدا کړي چه "ما ته د خپل ځان او د ټولې دنیا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي." او مدني اِنقلاب به راولي. اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ

تو پیچھے نہ ہٹنا کبھی اے پیارے مبلغ
شیطان کے ہر وار کو ناکام بنادے (وسائِلِ بخشِش)

اے خوږه مُبَلِّغه کله هم مه په شا کيږه
ناکام کړه په هِمَّت سره هر وار د شیطان

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د نیکۍ دعوت عام کړئ

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دې واقعې نه دا مدني ګل هم په لاس راغې چه مسلمانان پوهه کول او د نیکۍ دعوت عام کول پکار دي. ځکه چه په دې کښې د خپل ځان او د نورو اسلامي ورونړو دِیني او دُنیاوي خیرونه پټ پراته دي، څنګه چه په پاره 27 سُورَةُ الذّٰارِیٰت، آیت 55 کښې د الله عَزَّوَجَلَّ فرمانِ عالیشان دې:

وَّ ذَكِّرْ فَاِنَّ الذِّكْرٰى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۵۵﴾

ترجمهٔ کنزُالاِیمان: او نصیحت اوکړئ ځکه چه نصیحت مسلمانانو ته فائِده ورکوي.

مجھے تم ایسی دو ہمّت آقا دوں سب کو نیکی کی دعوت آقا

بنادو مجھ کو بھی نیک خصلت نبیِّ رحمت، شفیعِ اُمّت

ما ته داسې راکړې هِمّت آقا
چه ورکړم هر يو ته د نيکۍ دعوت آقا

جوړ کړې ما هم نيك خصلت آقا
نبیٔ رحمت، شفيعِ اُمّت

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د وخت د نعمت قدر اوکړئ

د دې حِکايت نه دا هم معلومه شوه چه د وخت په ناقدرئ کولو يو وخت سړې پښيمانه شي، خصوصاً په ځوانئ کښې بې فِکرې، بې پرواهي او د دې ښکلې وختونو بې قدرې په بوډاوالي کښې د پښيمانتيا سبب جوړيږي. ځکه چه د چا د ځوانئ سفر د ګناهونو په تيَرو کښې تيريږي نو چه کله بيا هغه په بوډاوالي کښې د نيکو رنړاګانو ته مخ ورګرزوي نو بيا ترې وخت تير وي، که هغه وخت څوك څه کول هم غواړي نو د بدن او اندامونو کمزوري او د صحت خرابي د هغه حوصلې کمزورې کړي، لِهٰذا چه تر څو د ځوانئ نعمت وي او صحت مو روغ وي، نو دا غنيمت اوګڼړئ او د زيات نه زيات عِبادت او د ښو کارونو په عادت باندې د استقامت موندلو د پاره کوشش اوکړئ او که نن هم د

نیکو نه دېده اوکړه او زړه هم په بدو کښې مشغول کړو او د هِمّت، حوصلې او د وخت نعمت مو ضایع کړو نو صبا به پښیمانه ئې خو بیا به د پښیمانتیا او د افسوس په وجه د لاسونو مروړلو نه هیڅ هم په لاس نه درځي.

د وخت تیز رفتاره سفر زمونږه شپې او ورځې په تیزئ سره غوځوي، د وخت واګې کله د چا په لاس راغلې دي او د وخت ګاډي ته څوك اووائي چه لږ په قلاره ځه! بس نن د وخت قدر اوکړئ او د دې نه فائِده اوچته کړئ ګنې بیا تلې وخت خو به مو یادیګي ضرور خو په لاس به نه درځي.

سدا عیش دَوراں دِکھاتا نہیں
گیا وقت پھر ہاتھ آتا نہیں

مفهوم: همیشه عیش په ژوندون چا دې لیدلي
تلې وخت په بیرته بیا کله راغلي

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ځواني څه ته وائي؟

د دعوتِ اسلامي د اشاعتي ادارې مکتبةُ المدینه چاپ کړي شوي د 1548 صفحو په کتاب "فیضانِ سُنّت" جِلد اوّل صفحه 713 کښې دي: د لُغاتو د کتابونو مطابق (د بالِغ کیدو نه واخله) د 30 یا 40 کالو پورې

انسان ځوان وي: 30 نه 50 کالو پورې د ځوانئ او بوډاوالي د مينځه وقفه يعنې پوخ عمر وي او د هغې نه پس بوډاوالې راشي.“

## فيضان قرآن او زلمي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دماغي او بدني صلاحيتونو نه په صحيح معنو کښې په ځوانئ کښې کار اغستې شي، د عِلمِ دين حاصلولو او مطالعه کولو عمر هم د ځوانئ دې، په بوډاوالي کښې خو ډېر ځل د عقل او پوهې صلاحيتونه بيکاره شي، د غور او فکر صلاحيتونه کمزوري شي، د ياد داشتو خزانه خالي شي، د دماغو د خلل په وجه انسان د ماشومانو په شان کارونه شروع کړي او د هغه نه ځينې وخت داسې د خندا کارونه اوشي چه سړي له بې اختياره خندا ورشي. خو خوشخبري ده د هغه زلمي د پاره ثوك چه د تلاوتِ قرآن عادت لري چه که داسې ځوان باندې بوډاوالې راشي نو هغه به د دې مصيبتونو او افتونو نه په امان کښې اوسي.

څنګه چه مُفسِّرِ شهير حکيمُ الأُمّت حضرت مُفتي احمد يار خان نعِيمي عَلَيۡهِ رَحۡمَةُ اللهِ الۡقَوِی نقل کوي: ”حضرتِ سيِّدُنا عِکرمه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡهُ فرمائي: کوم مسلمان چه د تِلاوتِ قرآن عادت لري، په هغه به اِنۡ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ دا (يعنې په ځوانئ کښې د حاصل کړې عِلم په بوډاوالي کښې د هيريدو) حالت نه راځي.“ (نورالعرفان، پ۱۷، الحج، تحت الآيه :۵)

www.dawateislami.net

فِلموں سے ڈِراموں سے دے نفرت تُو اِلٰہی!
بس شوق مجھے نعت و تلاوت کا خدا دے

د فلمونو، ډرامو نه نفرت راکړې اِلٰهي
شوق راکړې د نعتونو او تلاوت اے زما خدایا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د ځوانئ عبادت په بوډاوالي کښې د خير سبب

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د بيان کړي شوي رِوايت نه معلومه شوه چه د قرآن تِلاوت کونکي ځوان که بوډاوالي ته اورسيدو نو د قرآن د تِلاوت په برکت به په هغه حالت کښې د نِسيان (يعنې د هيريدو) د افت نه په حفاظت کښې وي. دا منظر خو عام ليدلې شي چه زيات بوډاګان د هِذيان (يعنې بدو ردو وئيلو) او نِسيان (يعنې د هيريدو) په مرض کښې اخته وي، خو ځيني خوش نصيبه داسې هم شته چه هغوئي اګر چه بوډاوالي ته رسيدلي دي خو بيا هم د عِلمي جلالت او دِماغي طاقت داسې شان او شوکت لري چه ليدونکي حيران پاتې شي، د دې ټولو عظمتونو يو سبب د ځوانئ عِبادت او د قرآنِ پاك تِلاوت دې.

## مدرسَةُ المدينه بالِغان

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ! په ځوانانو کښې د عِبادت او رياضت د شوق زياتولو او د قرآنِ مجيد د تعلِيم عامولو د پاره د تبليغِ قرآن و سُنّت

www.dawateislami.net

عالمګير غير سياسي تحريك دعوتِ اسلامي مضبوط کوششونه د صفت وړ دي. چه په هغې کښې يوه ”**مدرسةُ المدينه بالغان**“ هم ده، د دنيا د ډيرو ملکونو په مختلِف ځائيونو او جُماتونو کښې عام طور د ماسخُتن د مانځه نه پس د زرګاؤ مدرسةُ المدينه ترکيب کيږي، چه په هغې کښې اسلامي ورونړه فِي سَبِيلِ الله د صحيح مخارجو او د حروفو د صحيح ادا کولو سره قرآنِ کريم زده کوي، دعاګانې يادوي، مونځونه صحيح کوي او د سنّتو تعلِيم حاصلوي.“

يهى ہے آرزو تعليمِ قرآں عام ہو جائے
ہر اِک پرچم سے اونچا پرچمِ اسلام ہو جائے

دا مې ارمان دې چه تعليم د قرآن عام شي
د هر بيراغ نه اوچت بيراغ د اسلام شي

## مدرسةُ المدينه بالِغات

اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ! د دعوتِ اسلامي په مدني ماحول کښې د قرآنِ پاك د تعلِيم (حفظ و ناظره) د عاملو د پاره د اسلامي ورونړو د مدرسةُ المدينه بالِغان سره سره د غټې عمر د اسلامي خويندو د مدرسةُ المدينه بالِغات هم ترکيب شته دې، چه په هغې کښې په زرګاؤ اسلامي خويندې د قرآنِ پاك فِي سَبِيلِ الله تعليم حاصلوي. په دې مدرسو کښې اسلامي خويندې اسلامي خويندو ته تعليم ورکوي، د دې نه علاوه په ملك کښې

www.dawateislami.net

دننه او باهر بیشماره مدرسې د ”**مدرسةُ المدينه**“ په نوم قائِمې دي. په پاکستان کښې (د رجبُ المُرجّب ۱٤۳٥ھ پورې) زيات وکم 2064 مدرسې قائِمې دي چه په هغې کښې تقرِيباً 101410 مدني ماشومانو (هلکانو او ورِو جينکو) ته د حِفظ او ناظِره فِي سَبِيلِ الله تعلِيم ورکولې شي.

عطا ہو شوق مولیٰ مدرَسے میں آنے جانے کا
خدایا ذَوق دے قراٰن پڑھنے کا، پڑھانے کا

مولیٰ راکړې شوق د مدرسې د تلو راتللو
مینه راکړې د تعلِیمِ قرآن حاصلولو او ورکولو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## مدني ماحول کم تر بالا تر کړل

د دعوتِ اسلامي شعبې ”**مدرسةُ المدينه بالغان**“ د هر يو زلمي د پاره قرآنِ پاك زده کول، اخلاقيات صحيح کول، په عبادت کښې زړه لګيدل، بلکه دا چه د آخرت تياري کول اسان کړل. څنګه چه د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده: [وائي چه] ”زما ګناهونه ډېر زيات وو. چه په هغې کښې د V.C.R (وي. سي. آر) لِيدِ [کنکشن] ورکول، د شپې د لوفرو هلکانو سره ګرځيدل، هره ورځ دوه بلکه درې درې فلمونه کتل او په ورائِتې پروګرامونو کښې شپې بربادول شامِل دي.

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ! د بابُ المدينه کراچۍ د علاقې "نيا آباد" د يو اسلامي وروور د مسلسل انفرادي کوشش په برکت سره د علاقې مدرسةُ المدينه (برائے بالغان) ته د تللو ترکيب جوړ شو او دغسې راته د عاشِقانِ رسول صحبت نصيب شو او زه د تبلِيغِ قرآن و سُنّت د عالمګِير غير سياسي تحرِيك دعوتِ اسلامي په مدني ماحول کښې شامِل شوم او په مدني کارونو کښې مصروف شوم." (غِيبت کي تباه کارياں ص١٤٧)

ہمیں عالِموں اور بزرگوں کے آداب سکھاتا ہے ہر دم سدا مَدَنی ماحول
ہیں اسلامی بھائی سبھی بھائی بھائی ہے بے حد محبت بھرا مَدَنی ماحول

مونږ ته د عُلَماء او بزرګانو آداب
زده کوي هر دم سدا مدني ماحول

دي اسلامي وروڼه ټول وروڼه وروڼه
دې د محبتونو نه ډك دا مدني ماحول

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ځواني غنيمت اوګڼړئ

جليلُ القدر تابِعي حضرتِ سيِّدُنا عَمرو بن مَيمُون اَودِي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنۡهُ نه رِوايت دي چه سرکارِ نامدار، د مديني تاجدار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو کس ته په نصيحت کښې اوفرمائيل: پينځه خيزونه د پينځه خيزونو نه مخکښې غنيمت اوګڼړه: "د بوډاوالي نه مخکښې ځواني، د بيمارئ نه

مخکښ روغ صحت، د فقيرئ نه مخکښ مالداري، د مصروفِيّت [ يعني نا اوزګارتيا] نه مخکښ فُرصت [يعني اوزګار وخت] او د مرګ نه مخکښ ژوند.“ (مِشْكَاة المَصَابِيْح،كتاب الرقاق، الفصل الثانى، ٢/٢٤٥، حديث:٥١٧٤)

مشهور صوفي شاعِر حضرتِ سيِّدُنا شيخ مُصلِحُ الدِّين سعدي شِيرازي عَلَيهِ رَحْمَةُ اللهِ الهَادِی فرمائي:

کُنُوْنَتْ کِہ دَسْتَست خارِی بُکُنْ
دِگَرکی بَرآرِی تُو دَست اَزْ کَفَن

(بوستانِ سعدی، باب اوّل،درعدل و تدبیر و رای، ص٤٨)

(يعني اے غافِل انسانه! اوس چه ستا روغ او د هِمّت والا لاسونه خلاص دي نو ته په دې لاسونو څه کار اوکړه، صبا چه دا کله په کفن کښ اوترړل شي نو بيا ئې خلاصيدل کله نصيب کيږي!)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د ځوانئ قدر اوکړئ

د ځوانئ په باره کښ د حکيمُ الاُمّت مُفتي احمد يار خان نعيمي عَلَيهِ رَحْمَةُ اللهِ الغَنِی د ليکلي شوي کلام خلاصه ده: ”چه ځواني په لوبو ټوقو کښ تېره کړي او بيا په بوډاوالي کښ اندامونه بيکاره شي نو بيا د ډير عِبادت خواهِش کول بې وقوفي ده، چه څه کوئ نو په ځوانئ کښ ئې اوکړئ

ځکه چه د صالِح [یعني نیك] زلمي ډېره غټه درجه ده. لِهٰذا صحّت، ځواني، مالداري او ژوند بیکاره مه ضائِع کوئ، په دې کښې نیك اعمال اوکړئ ځکه چه دا نعمتونه بیا بیا نه نصیب کیږي. میاں مُحمّد بخش رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیه فرمائي:

سدا نہ حُسن جوانی رہندی، سدا نہ صحبت یاراں
سدا نہ بلبل باغاں بولے، سدا نہ باغ بہاراں

یعني نه دا ښکلې ځواني همیشه سلامته وي او نه د دوستانو او خپلوانو صحبتونه همیشه پاتې وي. په باغ کښې هره ورځ چغیدونکې بلبلې او د باغ سپرلي هم همیشه پاتې کیدونکي نه دي.

(مِرْاٰةُ المَنَاجِیْح،۷/۱٦بتصرف)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د وفات په وخت کښې د امیرِ مُعاوِیه فرمان

د حضرتِ سیِّدُنا امیر مُعاوِیه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ د وِصال وخت چه کله نِزدې راغې، نو هغوئي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اوفرمائیل:"ما کښینوئ." چه کله کښینولې شو نو په ذِکرُالله او تسبیح کښې مشغول شو. بیا ئې په ژړا کښې خپل ځان ته (د عاجزئ په طور) اوفرمائیل: اے مُعاوِیه (رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ)! اوس په بوډاوالي او د کمزورئ په وخت کښې درته د الله ذکر دریاد شو، هغه وخت دِ څه کول چه کله دِ د ځوانئ خاخ شین او تازه وو."

(اَلْبَابُ الاِحْیَاءْ، الباب الاربعون فی ذکر الموت ومابعده، ص۳٥۲، مختصراً)

## د بزرګانو عاجِزي زمونږ د پاره رهنُمائي ده

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! زمونږه اسلافِ کِرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی د نيکو خومره قدردان او عاجزي لرونکي وو چه د محبوبِ ربِّ اکبر صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جليلُ القدر صحابي کيدو او ټول ژوند په نيکو کښې د تيرولو نه باوجود ارمان کوي چه کاش! د نور زيات عبادت او رياضت سعادت راته نصيب شوې وې، د هغوئي په دې عاجزئ کښې زمونږه د پاره رهنُمائ ده چه اے ځوانانو! ځواني ډير لوئي نعمت دې، د دې قدر اوکړئ، دا په فُضُولو کارونو کښې مه تيروئ ګني چه تر څو پوهيږئ تر هغې پورې به غشې د لِيندې نه اوتې وي او د لِيندې نه وتلې غشې په بيرته نه راځي.

غَافِلْ مَنَشِيں نه وَقْت بَازِی سْت
وَقْت هُنَرَاست وَکَارْ سَازِی سْت

يعني اے زلمِيه! غافِله مه کښينه، دا د ارام او غفلت وخت نه دې بلکه د هُنر زده کولو او د کار وخت دې.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د عِبادت په برکت په بوډاوالي کښې هم ځواني

حضرتِ علّامه اِبنِ رجب حنبلي عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْقَوِی په ځوانئ کښې د عبادت په باره کښې فرمائي:”چا چه اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په هغه وخت کښې ياد

اوساتو چه کله هغه زلمې او طاقتور وو نو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به په هغه وخت کښې د هغه خيال اوساتي چه کله هغه بوډا او کمزورې شي او هغه ته به په بوډاوالي کښې هم د اوريدو او د ليدو ښه قوّت، د بدن طاقت او ښه ذهانت [يعنې د دماغو طاقت] ورکړې.

حضرتِ ابو الطيب طِبري رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه ته د سلو کالو نه زيات عمر نصيب شوې وو، هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه په ذهني او بدني لحاظ سره تندرست او طاقتور وو، د هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه نه چا د صحت د راز تپوس اوکړو نو ارشاد ئې اوفرمائيلو چه:"ما په ځوانئ کښې خپل بدني صلاحيت د ګناهونو نه بچ ساتلې وو او نن چه زه بوډا شوې يم نو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ هغه زما د پاره پاتې ساتلې دې. د دې برخلاف حضرتِ جُنيد رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه يو بوډا سړې اوليدو چه هغه د خلقو نه سوال کولو، نو دوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه اوفرمائيل چه: دې سړي په ځوانئ کښې د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ حقونه ضائِع کړې وو نو په بوډاوالي کښې اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د ده طاقت ضائِع کړو."

(مجموعه رسائل ابن رجب ۳/۱۰۰۶ملخصاً)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د ځوانئ محنت په بوډاوالي کښې سهولت

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! خوشخبري ده د هغه صالِح [نيك] زلمي د پاره د چا ځواني چه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په عِبادت کښې تيره شوه او په عبادت کولو کولو کښې پرې بوډاوالي راغې او بوډاتوب هم داسې چه د

عِبادت شوق خو ئې شته خو صحّت او هِمّت ئې کار پرېښودې وي، نو اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ هغه ته به د دې ناچارۍ په حالت کښې هم په روغ صورت او په ځوانۍ کښې د کړو عبادتونو همره ثواب ورکولې شي چنانچه حضرتِ سیِّدُنا اَنَس بِن مالِك رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائی:''چه کله بنده (د اسلام په حالت کښې په نیکو کولو کولو کښې) د عُمر آخرې حصّې ته اورسیږي نو اللّٰه تَعالٰی د هغه په اعمال نامه کښې هغه نیکیانې مسلسل لیکي کومې چه به هغه په خپله ځوانۍ کښې کولې.''

(مُسْنَدِ اَبِیْ یَعْلٰی، مسند انس بن مالک، ۳/۲۹۳،حدیث:۳٦٦٦ملتقطاً)

## د صالِح ځوان د پاره په بوډاوالي کښې اِنعام

حکِیمُ الاُمّت مُفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي:''کوم بوډا انسان چه د بوډاوالي په وجه زیات عِبادت نه شي کولې او هغه په ځوانۍ کښې ډېر عِبادتونه کړي وي نو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ هغه معذوره ګڼړي او د هغه په اعمال نامه کښې هم هغه د ځوانۍ عِبادتونه لیکي. (عارِف بِاللّٰه حضرتِ سیِّدُنا شیخ سعدي شِیرازي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي:)

رَسْمَ اَسْت کِه مَالِکَانِ تَحْرِیْر آزاد کُنَنْد بَنْدَه پِیْر
اے بَارِ خُدَا، اے عَالَمِ آرَا بَرْ سَعْدِیِ پِیْر خُوْد بَه بَخْشَا

(یعني د غلامانو د مالکانو طریقه ده چه هغه بوډا غلام ازادوي، اے زما پروردِګاره عَزَّوَجَلَّ! اے دُنیا ښائِسته کونکیه! د ضَعِیفُ الْعُمر سَعدِي هم بخښنه او مغفِرت اوفرمائے) (مِرْاٰةُ المَنَاجِیْح،۷/۸۹)

www.dawateislami.net

لِهٰذا د ځوانۍ قدر اوکړئ او زيات نه زيات عِبادت اوکړئ، ځکه چه صبا هم کله بوډاوالي د زيات عِبادت کولو نه معذوره کړي نو د الله عَزَّوَجَلَّ د لوئ دربار نه درته د تندرستۍ او ځوانۍ په شان د عبادت ثواب راروان وي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د الله عَزَّوَجَلَّ ګران بنده

حديثِ قُدسي دې: د حضرتِ سيِّدُنا عبدُ الله بِن عُمر رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نه رِوايت دې چه د نبئ پاك، صاحِبِ لولاك صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالي شان دې چه الله عَزَّوَجَلَّ ارشاد فرمائي: "زما په تقدِير باندې ايمان راوړونکې، زما په ليك پاندې راضي اوسيدونکې، زما په ورکړې شوي رزق باندې قناعت [صبر] کونکې او زما د رضا د پاره خپل نفساني خواهشات پرېښودونکې ځوان زما په بارګاه کښې زما د ځينې فرښتو په شان دې." (جَمْعُ الجَوَامِع،٩/٢٧٦،حديث:٢٨٧١٤)

واقعي! که انسان د الله عَزَّوَجَلَّ منونکې او فرمانبردار جوړ شي او د هغه د محبوب رحمتِ عالميان صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په رشتيني غلام جوړ شي نو هغه د فرښتو په شان بلکه د ځينې فرښتو نه هم غوره وي.

فِرشتوں سے بہتر ہے انسان بننا
مگر اِس میں لگتی ہے محنت زیادہ

www.dawateislami.net

د فرښتو نه بهتر دي انسان جوړېدل
خو دا غواړي محنت ډېر زيات

## د فرښتو نه غوره څوك

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! ياد ساتئ ”زمونږه رسولان د فرښتو د رسولانو نه غوره دي او د فرښتو رسولان زمونږه د اولياء نه غوره دي او زمونږه اولياء د فرښتو د عوام يعني د غيرِ رسول نه غوره دي. فُسّاق و فُجّار [بد كاره او نافرمانه] د فرښتو نه په هيڅ شان هم نه شي غوره كيدې.“ (فتاوی رضويه ، ۲۹/۳۹۱،النبراس ، ۵۹۵)

د حضرتِ سيّدُنا عبدُ الله بِن عُمر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نه رِوايت دې چه د نبئ رحمت، شفِيعِ اُمّت صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ با عَظَمت دې:” الله عَزَّوَجَلَّ د داسې كس سره محبّت كوي چا چه خپله ځواني د اطاعتِ خداوندي د پاره وقف كړې وي.“ (حِلْيَۃُ الاَوْلِيَاء ،۵/۳۹۴،حديث:۷۴۹۶)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو!بيان كړې شوې دواړو رواياتو كښې د اطاعت ګزارو د پاره بيشماره بركتونه او عِنايتونه دي چه كوم نيك بخته خپل د ځوانئ عمر د خدائے حنّان و منّان عَزَّوَجَلَّ د رضا په كارونو او د هغه په بندګئ كښې تير كړي، د ناجائِزه شوقونو او بدو خواهشونو نه خپله ځان بچ اوساتي، د هغه د پاره د الله عَزَّوَجَلَّ د باركاه نه د عِزّت او

www.dawateislami.net

عَظَمَت د مُقام او د محبوبِيّت د درجې د موندلو اُمِّيد او خوشخبري ده ځکه چه په ځوانئ کښې د نفس د طاقتور اس واګې راتينګول مشکل وي، په هم دې وجه د ځوانئ عبادت ته زيات فضيلت حاصل دې، څنګه چه حکِيمُ الاُمّت مُفتي احمد يار خان نعيمي عَلَيهِ رَحمَةُاللهِ الغَنِي ليکي:" په ځوانئ کښې دِ د ګناهونو نه ځان ساتي او ربّ عَزَّوَجَلَّ دِ ياد ساتي ولې چه په ځوانئ کښې اندامونه قوي او نفس د ګناهونو طرف ته (زيات) زور کوي ځکه د دې وخت عبادت د بوډاوالي د عبادت نه افضل دې."

(مِرْاٰةُ المَنَاجِيْح، ١/٤٣٥)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د فِتنو نه ډك په دې دور کښې چه په بدقسمتئ سره ډېر زيات ځوانان د قرآن و سنّت نه لرې، د ځوانئ په مستئ کښې نشه، د حرص او د دنيا د خواهشاتو په نشه کښې ورك او د نفس و شيطان د لاسه بې وسه د ګناهونو او بې حيائې سيلاب په مخه کړې وو چه د تبلِيغِ قرآن و سُنّت عالمګير غير سياسي تحريك دعوتِ اسلامي په ډېر لوئې هِمّت سره د اصلاحِ اُمّت بيراغ اوچت کړو او د دې ګناهونو او د بې حيائې د سيلاب حصاررولو د پاره ئې د کاميابو کوششونو سفر شروع کړلو. د دعوتِ اسلامي کاميابي د رنړا ورځې په شان هر يو ته ښکاره ده، ځکه چه هغه ځلمي چه هغه د ظالِم نفس او شيطان غلامان ښکاريدل، په خوش قسمتئ سره د دعوتِ اسلامي په مدني ماحول کښې

www.dawateislami.net

شامِل شول نو د هغوئي په سپيره ژوند کښې د مدني انقلاب سپرلې راغې او هغوئي د خپلې ځوانئ د سپرلو نه ډکې ورځې د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ او د هغه د خوږ رسول صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نوم وقف کړې او د دې مدني مقصد عامونکي جوړ شو چه "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي."

## د مِلّت ځوانان او دعوتِ اسلامي

اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ! د دعوتِ اسلامي د مدَني ماحول په ګڼړ شمير انقلابي کارونو کښې يو اهم ترين کار دا دې چه دې مدني ما حول په ګناهونو کښې ورك او هر وخت صرف د دنياوي مستقبل د بهترئ په فکرونو کښې پريشانه اوسيدونکي زلمي د تقوىٰ په لاره روان او په فکرِ آخرت کښې مصروفِ عمل کړل. د دې مدني ماحول په برکت سره ګڼړ شمير ځلمي اسلامي ورونړو د دنيا د رنګينيانو او د ځوانئ د غفلتونو نه مخ واړولو او د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په لاره کښې وقف شول. دې ته د دعوتِ اسلامي په اصطلاح کښې "وقفِ مدينه" وائي.

مقبول جہاں بھر میں ہو دعوتِ اسلامی
صدقہ تجھے اے ربِّ غفّار! مدینے کا

مقبول دِ ټول جهان کښې شي دعوتِ اسلامي
اے ربِّ غفّاره! په خاطر د مدينې

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

## د غوره ژوند راز

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ته مدني عرض دې چه د خپلې دنيا او آخرت ښه کولو او د ژوند وختونه قيمتي جوړولو د پاره د دعوتِ اسلامي د مدني ماحول سره تړون اوکړئ او د الله عَزَّوَجَلَّ د عبادت د پاره ملا کلکه اوتړئ ځکه چه د ټولو نه د غوره ژوند راز د الله عَزَّوَجَلَّ په عِبادت کښې پټ دې. څنګه چه مُفَسِّرِ شهِير حکِيمُ الاُمّت مُفتي احمد يار خان عَلَيْهِ رَحْمَةُ الْمَنَّان فرمائي: ژوند د هر چا تيرېږي، غوره ژوند هغه دې کوم چه د الله تبارَكَ و تَعالیٰ د پاره وقف شي. اللّٰہ تعالیٰ د هم داسې خلقو د پاره د صدقاتو خصوصي حکم ورکړې دې کوم چه خپل ژوند د الله (عَزَّوَجَلَّ) د پاره وقف کړي." (تفسيرِ نعيمى،٣/١٣٤، ملتقطاً)

د الله رَبُّ العِزّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.

آمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

قضا حق ہے، مگر اِس شوق کا اللہ والی ہے
جو اُن کی راہ میں جائے وہ جان اللہ والی ہے (حدائِقِ بخشش)

يعني مرګ خو حق دې، خو د الله د لارې د شوق لرونکي مدد ګار الله دې، ځوك چه د هغه په لار کښې قربان شي هغه د الله والا دې.

## د اويا صِدِّيقينو ثواب موندونکې

د حضرتِ سيِّدُنا اَنَس بِن مالِك رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دې چه رسولُ الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلي دي: د الله عَزَّوَجَلَّ د حرام کړې شوي څيزونو د بچ کيدو او د هغه په احکاماتو باندې عمل کونکې زلمي ته الله عَزَّوَجَلَّ فرمائي ستا د پاره د اوياو صِدِّيقينو همره ثواب دې.

(الترغيب فی فضائل الاعمال،باب فضل عبادة الشاب الخ،ص٧٨ مختصرا)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د الله عَزَّوَجَلَّ حقيقي بنده

د حضرتِ سيِّدُنا عبدُا لله بن مسعود رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دې چه رسولُ الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: الله عَزَّوَجَلَّ! په خپل مخلوق کښې هغه ښکلي ځلمي د ټولو نه زيات خوښوي چا چه خپله ځواني او ښائِست و جمال د الله عَزَّوَجَلَّ په عبادت کښې لګولي وي، الله عَزَّوَجَلَّ د فرښتو په مخکښې په دا سې بنده باندې فخر کوي او ارشاد فرمائي: "دا زما حقيقي بنده دې." (الترغيب فی فضائل الاعمال،باب فضل عبادة الشاب الخ،ص٧٨ )

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! خومره بختور دي هغه ځلمي چا ته چه د الله عَزَّوَجَلَّ په بارګاه کښې د محبوبيّت شرف حاصل شي، د چا ځواني چه د الله عَزَّوَجَلَّ په فرمانبردارئ کښې تيره شوه، د قدرت لرلو نه

www.dawateislami.net

باوجود چه د چا لمن د نفس په ټګۍ او د شيطان په جالونو کښې او نه نښتله او په چا چه د الله عَزَّوَجَلَّ د يرې غلبه قائِمه وه، د هغه خوش نصيبو د پاره ذکر کړې شوې مبارك رِوايت خوشحالونکې زيرې دې او داسې ځلمې په معاشره کښې هم لوئ مقام او مرتبه او عِزّت و عظمت لري.

وہی جواں ہے قبیلے کی آنکھ کا تارا
شباب جس کا ہے بے داغ، ضرب ہے کاری

د قبيلې د سترګو ستورې دې هغه ځلمې
د چا ځواني چه وي بې داغه،او ګزار مضبوط

## حيا دار ځلمې

د ځوانئ سپرلي د مدينې په خوشبويانو باندې د خوشبوداره کولو د پاره، د ځوانئ دوران د داغداره کيدو نه د بچ کولو د پاره او شرم حيا لرونکې جوړيدو د پاره د دعوتِ اسلامي د اشاعتي ادارې مکتبةُ المدينه د سنّتو نه د ډك بيان "با حيا نوجوان" کيسټ په هديه سره حاصل کړئ. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ! د دې بيان د 64 صفحو رساله هم د مکتبةُ المدينه نه په هديه سره تر لاسه کيدې شي. پخپله ئې هم اولولئ او نورو ته ئې هم په تُحفه کښې ورکړئ، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د ډيرو برکتونو خزانه به په لاس درشي. ځوانانو ته د غلطو لارو او د سستئ د عادت پريښودو د پاره، د اسلافِ کِرام په لارو د تللو او د دين او مِلّت د خدمت کولو او

صرف دينِ اسلام د دُنيا او آخرت د کاميابۍ ذريعه ګڼړلو باندې د پوهه کولو د پاره شاعر څه ښه وئيلي دي:

ترے صوفے ہیں افرنگی، ترے قالیں ہیں ایرانی
لہو مجھ کو رُلاتی ہے جوانوں کی تن آسانی

اَمارت کیا، شکوہِ خُسرَوی بھی ہو تو کیا حاصل
نہ زورِ حیدری تجھ میں، نہ اِستِغنائے سَلمانی

نہ ڈھونڈ اِس چیز کو تہذیبِ حاضر کی تجلّی میں
کہ پایا مَیں نے اِستِغنا میں معراجِ مسلمانی

ستا صوفے دي فرنګي، ستا قالين دي ايراني
ژړوي مي په سرو سترګو، لټول د ځوانانو اساني

څه به اوکړې که ستا غټه بادشاهي وي
نشته زورِ حيدري[1]، نه استغنائے سلماني[2]

د دې دور په رواجونه کښې ئې مه ګوره
ما موندلې استغنا کښې، مِعراجِ مسلماني[3]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

---

1 د سيّدُنا حضرتِ علي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ طاقت
2 د حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په لږ مال باندې صبر
3 يعنې د اوچتې درجې مسلماني

www.dawateislami.net

# ځواني د خدائے نعمت دې

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! ځواني د الله عَزَّوَجَلَّ ډیر لوئي نعمت دې چا ته چه دا نعمت نصیب شي نو هغه له پکار دي چه د دې قدر اوکړی او زیات نه زیات وخت په عبادت او فرمانبردارئ کښې تیر کړي، د وخت قیمتي ملغلرې د ګټې ذریعه جوړول پکار دي. حکیمُ الاُمّت حضرتِ مُفتي احمد یار خان عَلَيْهِ رَحْمَةُ الْمَنَّان فرمائی: "د ځوانئ عِبادت د بوډاوالي د عبادت نه غوره دې ځکه چه د عبادت اصل وخت ځواني ده. شعر

کر جوانی میں عبادت کاہلی اچھی نہیں
جب بڑھاپا آگیا کچھ بات بن پڑتی نہیں

ہے بڑھاپا بھی غنیمت جب جوانی ہو چکی
یہ بڑھاپا بھی نہ ہو گا موت جس دم آگئی

کړه ځوانئ کښې عبادت،سستي ښه نه ده
چه بوډا شوې بیا هِمَّت به درکښې نه وي

ځواني لاړه بوډاوالې هم نعمت دې
که مرګ راغې بوډاتوب به هم بیا نه وي

د وخت قدر اوکړه، دا غنیمت اوګڼړه. تیر شوې وخت بیا په لاس نه راځي." (مراۃُ المناجِیح، ۱٦۷/۳) او خصوصاً د ځوانئ د وختونو قدر

www.dawateislami.net

ډېر ضروري دي ځکه چه په ځوانئ کښې د انسان اندامونه مضبوط او طاقتور وي، چه د هغې په وجه په احکامو عمل کول او عبادتونه په راستئ او په ډېر ښه شان کول اسان وي، په بوډاوالي کښې بیا دا نعمتونه چرته نصیب کیږي! هغه وخت خو ځُمات ته تلل هم مشکل شي. د لوَګې او د تندې د تکلیف برداشت کولو همت هم نه وي، نفل څه چه د فرض روژې پوره کول هم ګران پریوځي او هسې هم د ځوانئ عبادت یو جُدا حیثیت لري څنګه چه

## د عبادت کونکي ځلمي فضیلت

حضرتِ سیِّدُنا اَنَس بِن مالِك رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوایت دې چه: د نبئ کریم، رءُوفُ الرَّحِیم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشادِ عظِیم دې: ”د سحر په وخت کښې عبادت کونکي ځلمي ته په بوډاوالي کښې عِبادت کونکي بُوډا باندې هم داسې فضیلت حاصل دې څنګه چه مُرسَلِین (صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ته په ټولو خلقو باندې [فضیلت حاصل دې].“

(جمع الجوامع،۵/۲۳۵،حدیث:۱٤۷٦۹)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!     صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دې رِوایت نه معلومه شوه چه عِبادت ګُزار ځلمې یقیناً خوش بخته دې، د هغه د پاره د ډېرو فضیلتونو او سعادتونو خوش خبري ده، خو د دې قِسمه رِوایاتو نه دِ ځوك دا نتیجه نه اخلي چه ګني بوډاګان هډو په څه کښې شمار نه دي.

www.dawateislami.net

زما خوږو اسلامي وروڼړو! داسې نه ده، ياد ساتئ! چه دا د اسلامي معاشرې انفرادي خصوصيت دې چه هغه بوډاګان او ضعيفان هم اوچتو درجو ته خيژوي، په اسلام کښې بوډاګان بوج ګڼړل او د دوئي د کور نه د زغلولو او په څه اِداره کښې د "جمع" کولو هيڅ تصوّر نشته، د اسلام دا ځان له يو لوئ شان دې چه په دې دِينِ مُبِين کښې د رنګ و نسل، د عُمر او ونې د فرق نه بغير هر مسلمان خپل خاص مقام لري، او د دې لحاظ ساتل په بل مسلمان باندې لازِم دې، د دې مختصر وضاحت د دعوتِ اسلامي د اشاعتي ادارې مکتبةُ المدينه چاپ کړې شوي د 32 صفحو په رساله "احتِرامِ مُسلِم" کښې ورکړې شوې دې. غرض دا چه! هر مسلمان که هغه بوډا وي او که ځوان، د اسلام په نظر کښې د هغه خاص اَهَمِيَّت او شان دې. چنانچه

## د بوډاوالي فضائِل

د محبوبِ ربِّ ذُالجَلال، پيکرِ جُود و نوال صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ باکمال دې: "سپين وِيښته مه اوباسئ ځکه چه هغه د مُسلِم نُور دې، کوم کس چه په اسلام کښې بوډا شو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به د هغې په وجه د هغه د پاره نيکي ليکي او خطا به ئې معاف کړي او درجه به ئې اوچته کړي."

(ابوداؤد، کتاب الترجل، باب فی نتف الشيب، ٤/١١٥، حديث: ٤٢٠٢)

د حضرتِ کعب بِن مُرّه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دې چه د حضورِ پرنور، شافِعِ يومُ النُّشُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشادِ پرنور دې: "څوک چه په

www.dawateislami.net

اسلام کښې بوډا شو، دا بوډاوالې به د هغه د پاره د قيامت په ورځ نور وي.“ (ترمِذی،کتاب فضائل الجهاد، باب ماجاء ترمِذی،کتاب فضائل الجهاد، باب ماجاء فی فضل من شاب شيبة فی سبيل الله ،٣/٢٣٧،حديث:١٦٤١)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

لِهٰذا! ضعيفه اسلامي ورونړه دِ هم زړه نه ورکوتې کوي او د مايوسئ تورې وريځې دِ په ځان نه راخوروي ځکه چه **”که په ځوانئ کښې هم نيکئ کمې کړې وي نو اوس سهي.“**

چا څه ښه وئيلي دي:

ہے بڑھاپا بھی غنیمت جب جَوانی ہوچکی
یہ بڑھاپا بھی نہ ہو گا،موت جس دم آگئی

ځواني لاړه بوډاوالې هم نعمت دې
که مرګ راغې بوډاتوب به هم بيا نه وي

که د ژوند د سفر په هر مقام کښې رابيدار شئ نو مايوسه کيږئ مه بلکه دا غنيمت اوګڼړئ او د ژوند سحر د مرګ په ماښام کښې د بدليدو نه مخکښې مخکښې د زارئ فرياد او تقوٰی او پرهيزګارئ په ذريعه د الله عَزَّوَجَلَّ د راضي کولو په کوششونو کښې مصروف شئ او د يَرې او اُمِّيد د مينځ په حالت کښې ځولئ خوره کړئ او د الله عَزَّوَجَلَّ بارګاه ته

اوګرځئ، د اُمّيد نه ډك دا آيت لَا تَقۡنَطُوۡا مِنۡ رَّحۡمَةِ اللّٰهِ ؕ (مفهوم: ترجمهٔ كنزُ الاِيمان: د الله د رحمت نه مه نا اُمِيده كيږئ. (پ 24، الزُّمر: 53) خپل زړه ته اونيسئ، اِنۡ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ نا اُمِيد ه او تشه لمن نه بلكه د مغفِرتونو او بخښنو د نه ختميدونكي دولت نه به مالامال راګرځئ.

نہ ہو نومید، نومیدی زوالِ عِلْم وعِرفاں ہے
اُمیدِ مردِ مؤمن ہے خدا کے راز دانوں میں

مفهوم: نا اميده كيږه مه، نا اُميدي د عِلم و عِرفان د ختميدو سبب ده، د مؤمِن اُمّيد خو د الله په رازونو كښې يو راز لرونكي څيز دي.

او دا هم ياد ساتئ چه د عمر په هره حصّه كښې اګر كه په بُوډاوالي كښې وي، د الله عَزَّوَجَلَّ په بارګاه كښې توبه كول د نيك بختو خلقو برخه ده ګڼي په دې زمانه كښې ډير خلق چه د بوډاوالي په كور ور داخليدونكي دي په مُختلِف قسم لوبو او نورو حرامو كارونو كښې مزې لټولو كښې مصروفه دي. ځواني خو ئې مخكښې په غفلت كښې برباده كړي وي په بوډاوالي كښې ورته هم د خير توفيق نصيب نه شو، د دې نه پس به د ژوند كوم داسې وختونه راځي چه په هغې كښې د آخرت تياري اوكړې شي؟

کر نہ پیری میں تو غفلت اِختیار
زندگی کا اب نہیں کچھ اِعتبار

www.dawateislami.net

حلق پر ہے موت کے خنجر کی دھار
کر بس اب اپنے کو مُردوں میں شُمار

ایک دن مرنا ہے آخِر موت ہے
کر لے جو کرنا ہے آخِر موت ہے

مه کړه ته په سپينه ږیره نور غفلت اختيار
بس دي د ژوند نشته نور څه اعتبار

په مرئ دِ دي د مرګ خنجر د پاسه
کړه په مړو کښ نور ته خپل ځان شُمار

يوه ورځ به ئي ته مړ آخر دِ مرګ دي
چه څه کړې هغه کوه آخر دِ مرګ دي

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! مونږ ته د خپلې ځوانئ قدر کول پکار دي ګنې په بوډاوالي کښ ځينې وخت سړې ډير سخت پښيمانه وي او څه کولې هم نه شي، بنده څه کول غواړي خو حوصله ئې ملګرتيا نه کوي، ځواني يادوي خو ځواني په بيرته نه راځي او د بوډاوالي نه تنګ هم وي خو هغه ترې جدا کيږي نه. خو د هغه وخت پښيمانتيا څه فائِده نه ورکوي.

جو آکے نہ جائے وہ بڑھاپا دیکھا
جو جاکے نہ آئے وہ جَوانی دیکھی

بوډاتوب راباندې راغي بيرته نه ځي
نه راځي بيرته ځواني چه را نه لاړه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! يقيناً د ځوانۍ د عبادت ډېر زيات فضيلتونه دي، په ځوانۍ کښې عبادت کونکي او خپل ځان د ګناهونو نه بچ ساتونکي باندې الله عَزَّوَجَلَّ ښنګه فضل کوي چنانچه

## صالِح ځلمي ته ورکړې شوې اِنعام

د دعوتِ اسلامي د اشاعتي ادارې مکتبةُ المدينه چاپ کړې شوي د 56 صفحو په رساله ''کراماتِ فاروقِ اعظم'' [اُردو] په صفحه 24 کښې دي: مُشِيرِ رَسول، اِميرُ المُؤمِنِين حضرتِ سيِّدُنا فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ يو ځل د يو صالِح (يعني پرهيزګاره) ځلمي د قبر خوا ته تشريف يوړو او ورته اوئې فرمائيل:

اے فلانکيه! الله عَزَّوَجَلَّ وعده فرمائيلې ده:

وَ لِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ ﴿۴۶﴾

**مفهوم ترجمه کنزُالاِيمان: او څوك چه د خپل ربّ په مخکښې د اودريدو نه يريږي، د هغه د پاره دوه جنّتونه دي.**

اے ځلمیه! وایه! په قبر کښې ستا څه حال دې؟ هغه صالِحه (نیك) ځلمي د قبر د دننه نه د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نوم واغستو او په اوچت آواز کښې ئې دوه ځله جواب ورکړو: "قَدْ اَعْطَانِیْھِمَا رَبِّیْ عَزَّوَجَلَّ فِی الْجَنَّةِ یعنې زما ربّ عَزَّوَجَلَّ دا دواړه جنّتونه ما ته راکړي دي." (تاریخ مدینه دمشق،٤٥/٤٥٠)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

سُبْحٰنَ اللّٰـہ عَزَّوَجَلَّ! د دې واقعې نه معلومه شوه چه څوك د نیکو نه ډك ژوند تیروي او د الله عَزَّوَجَلَّ د یَرې نه رپیږي، هغه به د الله عَزَّوَجَلَّ په کامِل رَحمت د دوو جنّتونو حقدار جوړیږي. لِهٰذا ځواني په نیکۍ او پرهیزګارۍ کښې تیره کړېئ، د نفساني خواهشاتو د منلو نه ځان اوساتئ، د اوس نه ډیر احتیاط شروع کړېئ! یاد ساتئ! دا ښائِست او ځواني ختمیدونکي خیزونه دي او په دې باندې غرور او کبر کول کم عقلي ده.

ڈھل جائے گی یہ جوانی جس پہ تجھ کو ناز ہے
تُو بجالے چاہے جتنا چار دن کا ساز ہے

مه نازیږه په ځوانۍ دا به شي ختم
دي د دوه ورځو سازونه شي به ختم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اوس د دوه عبادت ګزارو او د الله عَزَّوَجَلَّ یره لرونکو ځلمو حیرانونکي واقعې اولولئ او اوګورئ چه د

الله عَزَّوَجَلَّ په ياد باندې خپل زړونه ابادونکو ته څنګه کرامات ورکول شي چنانچه

## كرامت لرونكې ځلمې

حضرتِ سیِّدُنا مالِك بِن دِینار عَلَيهِ رَحْمَةُ اللهِ الغَفّار فرمائي چه د يو سفر په دوران کښې څه سخت تکې شوم نو زه د اوبو په لټون کښې د يو ناو طرف ته روان شوم. ناڅاپه مې يو يرونکې اواز واوريدو، ما سوچ اوکړو چه شائِد دا څه خطرناك ځناور دې او چرې زما طرف ته راروان دې. زه تښتيدو والا ووم چه د غرونو نه ما ته چا غږ اوکړو:"اے انسانه! داسې څه خبره نه ده څنګه چه تا سوچ اوکړو، دا خو د الله عَزَّوَجَلَّ يو ولي دې او هغه [د خپل تير شوي عمر په څه خبره] په ډير ارمان يوه اوګده سا واخستله په هغې کښې د هغه اواز اوچت شو." چه زه بيا خپلې لارې ته ور اوګرزيدم نو يو ځلمې مې په عِبادت کښې مشغول اوليدو.

ما هغه ته سلام اوکړو او د خپلې تندې مې ورته اووئيل نو هغه اووئيل: اے مالِکه (رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه) په دومره غټه بادشاهۍ کښې تا يو څاڅکې اوبه هم او نه موندلې. "بيا هغه د يو خټ طرف ته لاړو او هغه ئې په ټوکر اووهلو او او ئې وئيل: "د هغه ذات په قدرت باندې مونږه په اوبو خړوب کړه کوم چه د دوړيدلو هډوکو په بيا ژوندي کولو باندې هم قادِر دې." ناڅاپه د خټ نه اوبه داسې رابهيدل شروع شوې څنګه چه د چينې نه رابهيږي.

www.dawateislami.net

ما چه ځان ښه خړوب کړو نو عرض مې اوکړو: ''ما ته د داسې
خيز نصيحت اوکړئ چه د هغې نه ما ته فائِده حاصليږي.'' نو هغوئي
اوفرمائيل: په ځان له ځائ کښې د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په ذکر کښې مشغوله شئ،
هغه (ربّ عَزَّوَجَلَّ) به تا په ځنګلونو کښې په اوبو باندې خړوب کړي.''
دائې چه اووئيل نو په خپله لاره روان شو. (الروض الفائق، ص١٦٦، بتصرفٍ)

میری زِندگی بس تیری بندگی میں
ہی اے کاش! گزرے سدا یااِلٰہی

زما ژوند دِ صرف ستا په بندګۍ کښې
شي تېر کاش! سدا[4] يا اِلٰهي

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## صالِح او [د اللّٰه نه] يريدونکي ځلمي

حضرتِ سيِّدُنا ذالنُّون مِصري عَلَیۡہِ رَحۡمَۃُ اللّٰہِ القَوِی يو ځل شام ته تشريف
يوړلو، هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ د يو ډير ښکلي باغ په خوا تيريدلو څه ګوري چه
يو ځلمې د منې [سيب] د ونې نه لاندې په مانځه کښې مشغول دې. د
هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ په زړه کښې د هغه صالحه ځلمي سره د خبرو کولو
شوق پيدا شو. فرمائي چه هغه کله سلام اوګرځولو نو ما د هغه توجُّه د

[4] هميشه

www.dawateislami.net

خپل ځان طرف ته د راګرځولو کولو کوشش اوکړو نو هغه د څه جواب راکولو په ځائې په زمکه دا شعرونه اوليکل:

مُنِعَ اللِّسَانُ مِنَ الْكَلَامِ لِاَنَّهُ ۔۔۔ كَهْفُ الْبَلَاءِ وَجَالِبُ الْاٰفَاتِ

فَاِذَا نَطَقْتَ فَكُنْ لِّرَبِّكَ ذَاكِرًا ۔۔۔ لَا تَنْسَهُ وَاَحْمِدْهُ فِي الْحَالَاتِ

يعني ژبه د خبرو نه منع کړې شوې ده ځکه چه دا (ژبه) د قِسم قِسم بلاګانو غار او آفتونه راوستلو والا ده نو چه کله وئيل غواړې نو د الله عَزَّوَجَلَّ ذکر کوه، هغه هيڅ کله مه هيروه او په هر حال کښې د هغه حمد [يعني ثناء، صفت] بيانوه.

د هغه ځلمي د دې لِيك د هغوئي په مبارك زړه باندې ډير اثر اوشو او هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په ژړا شولو. چه کله بيرته په خپل حالت شو نو دوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه هم په جواب کښې په زمکه باندې په ګوته دا شعرونه اوليکل:

وَمَا مِنْ كَاتِبٍ اِلَّا سَيَبْلٰى ۔۔۔ وَيُبْقِي الدَّهْرُ مَا كَتَبَتْ يَدَاهُ

فَلَا تَكْتُبْ بِكَفِّكَ غَيْرَ شَيْءٍ ۔۔۔ يَسُرُّكَ فِي الْقِيَامَةِ اَنْ تَرَاهُ

يعني هر ليکونکې به يو ورځ د قبر سره يو ځائې کيږي خو د هغه لِيك به هميشه باقي پاتې وي ځکه په خپل لاس داسې خبره اوليکه چه هغه ته د قيامت په ورځ او ويني نو پرې خوشحاله شې.

www.dawateislami.net

د حضرتِ سيِّدُنا ذالنُّون مِصري عَلَيهِ رَحمَةُ اللهِ القَوِی بيان دي چه زما د ليك لوستلو سره هغه صالِح ځلمي يوه چغه اووهله او د هغه رُوح د هغه د بدن نه اووتلو. ما دا سوچ كولو چه د ده د كفن دفن انتِظام اوكړم خو يو غيبي اواز اوشو: اے ذُالنُّون! دي پرېږده. ربِّ كائِنات عَزَّوَجَلَّ د ده سره وعده كړې ده چه ستا كفن دفن به فرښتې كوي. دا مې چه واوريدله نو زه د باغ په يو طرف كښې په عِبادت كښې مصروف شوم، چه يو څو ركعته مې اوكړل او بيا مې هغه طرف ته اوكتل نو د هغه ځلمي په هغه ځائ څه نښه هم نه وه پاتې. (روض الرياحين، ص٤٩،بتصرفٍ)

رہوں مست و بے خود میں تیری وِلا میں
پِلا جام ایسا پِلا یا اِلٰہی!

چه اوسيږم مست، بې خوده ستا په ياد كښې
اوڅښه داسې جام په ما يا اِلٰهي

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د عرش سورې موندونكي خوش نصيبه

په ځوانئ كښې عبادت كونكو او د الله عَزَّوَجَلَّ يره لرونكو ته دِ مُبارك وي څكه چه د قيامت په ورځ به د نمر ستركه په يو مِيل كښې وي او اور به راوروي، د عرش د سُورې نه علاوه به د هغه سخت تكيف وركونكي ګرمئ نه د بچ كيدو بله يوه ذريعه هم نه وي نو الله عَزَّوَجَلَّ به

عَزَّوَجَلَّ به داسې خوش نصيبه ځلمي ته د خپل عرش د رحمت د سورې پناه ورکوي لکه ښنګه چه حضرتِ سيِّدُنا امام عبدُ الرَّحمٰن جلالُ الدِّين سُيُوطي شافِعي عَلَيۡهِ رَحۡمَةُ اللهِ الۡكَافِي نقل کوي: حضرتِ سيِّدُنا سلمان فارسي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنۡهُ د حضرتِ سيِّدُنا ابو درداء رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنۡهُ طرف ته خط اوليکو چه: ”د دې صِفاتو لرونکي مسلمانان به د عرش په سورې کښې وي: (په هغې کښې دوه دا دي)

(1) هغه کس چه هغه په داسې حال کښې غټ شي چه د هغه صحبت [يعني ناسته ولاړه]، ځواني او طاقت د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د خوښې او رضا په کارونو کښې تير شوي وي. او

(2) هغه کس چا چه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ ذکر اوکړو او د هغه د يرې نه د هغه د سترګو نه اوښکې اوبهيدلې.“

(مُصَنَّف اِبْنِ اَبِي شَيْبة، کتاب الزہد، کلام سلمان، ۸/۱۷۹،حديث:۱۲، ملتقطاً)

يارَبّ! ميں ترے خوف سے روتا رہوں اکثر
تُو اپنى محبت ميں مجھے مست بنا دے

يا ربّه! ستا د يرې نه دِ ژاړمه اکثر
ما جوړ کړه مست په مينه کښې دا ستا

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

زمونږه اسلافِ کِرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی به د ځوانئ ډېر قدر کولو او د
دې د قدر کولو تلقِين [يعنې نصيحت] به ئې فرمائيلو چنانچه

## د اِمام غزالي نصيحت

حُجَّةُ الاِسلام حضرتِ سيِّدُنا امام ابو حامِد محمّد بِن محمّد غزالي عَلَيهِ رَحمَةُ اللهِ الوَالی د ځلمو او په توبه کښې د سستئ نه د کار اغستونکو خلقو د پوهه کولو د پاره اِرشاد فرمائي:"آيا تاسو فِکر نه کوئ چه د څومره مودې نه د خپل نفس سره وعده کوئ چه صبا به نيك عمل کوم، صبا به [نيك عمل] کوم او هغه "صبا" په نن کښې بدل شو.

آيا تاسو نه پوهيږئ چه کوم "صبا" راغې او لاړو هغه په "پرون" کښې بدل شو بلکه اصل خبره دا ده چه ته نن د عمل کولو نه عاجِز ئې [يعنې نه ئې شې کولې] نو "صبا" به زيات عاجِز ئې ( د نن کار صبا ته پرېښودونکې او په توبه کښې ناوخته کونکې) د هغه سړې په شان دې چه هغه په ځوانئ کښې يوه اونه نه شې کټ کولې او هغه بل کال ته پرېږدي حالانکه هغه پوهيږي چه څنګه څنګه وخت تيريږي اونه به نوره هم مضبوطيږي او کټ کونکې به ورځ په ورځ کمزورې کيږي. نو چا چه هغه په ځوانئ کښې کټ نه کړې شوه هغه به ئې په بوډاوالي کښې هيڅ کله هم کټ نه کړې شي." (اِحيَاءُ العُلُوم،٤/٧٢)

اُترتے چاند ڈھلتی چاندنی جو ہو سکے کر لے
اندھیرا پاکھ آتا ہے یہ دو دن کی اُجالی ہے

www.dawateislami.net

ځواني تيزه ده روانه که څه کړې نو نن ئې اوکړه
دا د دوه ورځو رڼرا ده بيا به وي توره تيَره

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د امام غزالي عَلَيهِ رَحْمَةُ اللهِ الوَالِى دا فرمان خومره په فکر کښ اچونکې دې چه ځوك په ځوانئ کښ د شريعت په احکامو او د الله په اطاعت کښ کوتاهي کوي نو د هغه نه ښکله اُمِّيد کيدې شي چه ګني هغه به په بوډاوالي کښ د دې عِلاج اوکړې شي ځکه چه هغه وخت خو به د بدن اندامونه کمزوري شوي وي لِهٰذا ځواني غنيمت اوګڼړئ او په هم دې عمر کښ د نفس د طاقتور اس واګې راټينګې کړئ او په توبه کولو کښ تادي اوکړئ معلومه نه ده چه څه وخت د مرګ پيغام راشي ځکه چه مرګ خو نه د ځوانئ لحاظ کوي او نه د ماشوم والي پرواه کوي.

موت نہ دیکھے حسن و جوانی نہ یہ دیکھے بچپن
خواہ ہو عمر اٹھارہ برسی یا ہو جاوے پچپن

مرګ نه ګوري ستا ښائِست، نه ځواني، نه وړوکوالي
که ئې ځوان اتلّس کليز يا که وي دِ بوډاوالي

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

لهٰذا که د عمر هره حصّه وي، مرګ یاد ساتئ، په توبه کولو کښې تادي اوکړئ او ځوانان خو دِ په دې نوره هم زیاته توجّه ورکړي ځکه چه د ځوانئ توبه اللّٰه عَزَّوَجَلَّ ته ډېره خوښه ده څنګه چه

## په ځوانئ کښې د توبه کولو فضیلت

د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د محبوب، دانائے غُیوب، مُنَزَّہٌ عَنِ العُیُوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالي شان دې:"اِنَّ اللهَ تَعَالٰى يُحِبُّ الشَّابَّ التَّائِبَ یعنې په ځوانئ کښې توبه کونکے د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ محبُوب [یعنې خوښ بنده] دې."

(کنز العُمّال، کتاب التوبة، الفصل الاول فی الخ، الجزئ٤، ٣/٨٧،حدیث:١٠١٨١)

## په ځوانئ کښې توبه کونکے محبوب ولې وي؟

مُبَلِّغِ اِسلام حضرتِ علّامه شُعَیب حَرِیفِیش رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د خپل بنده سره محبّت هغه وخت وي چه کله هغه په ځوانئ کښې توبه کونکے وي ځکه چه ځلمې د تازه شنې ځیلئ په شان وي. او هغه د خپلې ځوانئ او د هر طرف نه د شهواتو او خوندونو نه د مزو اغستو او د هغې د رغبت پیدا کیدو په عُمر کښې توبه کوي، او دا داسې وخت وي چه دُنیا د هغه طرف ته متوجّه وي. د هغې باوجود صرف د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د رضا دپاره هغه دا ټول څیزونه پرېږدي نو د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د محبّت حقدار جوړ شي او د هغه په مقبول بندګانو کښې د هغه شمار کیدل شروع شي."

د حضرتِ سيّدُنا اَنَس بِن مالِك رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دي چه سيِّدُ المُرسَلِين، جَنابِ رَحمَةٌ لِّلْعٰلَمِين صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارك فرمان دي. "الله عَزَّوَجَلَّ ته د توبه کونکي ځلمي نه زيات هيڅ څوك هم خوښ نه دي."
(كنز العمال،كتاب المواعظ--الخ، الترغيب الاحاذى، الجزئ:١٥، ٨/٣٣٢، حديث:٤٣١٠١)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## په ځوانئ کښې اِستِغفار اوکړئ

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په ځوانئ کښې د عِبادت او د توبې طرف ته مخ کونکي ځلمي څومره بختور دي چه الله عَزَّوَجَلَّ هغه خپل خوږ بنده جوړ کړي. رشتيا ده چه

دَر جوانِی تَوبَه کَردَن شیوهٔ پیغمبری
وَقتِ پِیری گُرگِ ظالِم مِی شَوَد پَرهیزگار

يعني په ځوانئ کښې اِستِغفار کول د انبياءِ کِرام عَلَيْهِمُ السَّلَام سُنّت دي، ګني په بوډاوالي کښې خو ظالِم شرمخ هم د پرهيزګارو لِباس واغوندي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## يوه وسوسه او د هغې علاج

**وسوسه:** په بيان کړي شوي شعر کښې توبه او استغفار ته د انبياء

عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام سُنّت وئيلي شوي دي، حالانکه توبه خو د ګناه نه کيږي نو آيا معاذالله عَزَّوَجَلَّ د انبياء کرام نه هم ګنې ګناه کيدې شي؟

**د وسوسې عِلاج:** نه شي کيدې هيڅ کله هم نه شي کيدې، انبياء عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام د هرې خطا او ګناه نه معصوم دي، د معصوم دا معنٰی ده چه د هغوئي د پاره د حِفظِ اِلٰهي [يعنې د الله د طرفه د حفاظت ورکولو] وعده شوې ده چه د هغې په وجه د هغوئي نه يوه ګناه هم کيدل شرعاً بالکل کيدې نه شي، او د داسې افعالو [يعنې کارونو] نه کوم چه د اخلاق او عزّت و احترام خلاف دي د نُبُوّت نه مخکښ هم او د نُبُوّت نه وروستو هم بِالاِجماع معصوم دي او د کبائِرو نه هم مُطلقاً معصوم دي او حق دا دې چه د صغائِرو نه هم د نُبُوّت نه مخکښ او وروستو معصوم دي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

وہ کمَالِ حُسنِ حُضور ہے کہ گمانِ نَقص جہاں نہیں

یہی پھول خار سے دُور ہے یہی شمع ہے کہ دُھواں نہیں

دا کمال دې د حضور د ښائِست، چه د نقص هيڅ ګمان نه لري

داسې ګل دې چه ازغي نه لري، داسې شمع ده، د لوګي څه نشان نه لري

د انبياءِ کِرام او مُرسَلِينِ عُظّام عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام نه چه د توبه او اِستِغفار کولو کوم معمولات منقول دي هغه په طور د عاجِزئ او د اُمّت

www.dawateislami.net

د تعليم د پاره دي، څکه توبه او اِستغفار ته په بيان کړي شوي شعر کښې د انبياءِ کرام عَلَيۡهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام سُنّت وئيلي شوي دي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ځوانانو ته نصيحت

حُجَّةُ الاِسلام حضرتِ سيّدُنا اِمام مُحمّد بِن مُحمّد غزالي عَلَيۡهِ رَحۡمَةُ اللّٰهِ الوَالِی ليکي: حضرتِ منصور بِن عمّار عَلَيۡهِ رَحۡمَةُ اللّٰهِ الغَفَّار يو ځلمي ته په نصيحت کښې اووئيل: "اے ځوانه! تا خپله ځواني چرې په دهوکه کښې وا نه چوي، څومره ځوانان داسې تير شوي دي چه هغوئي خپله توبه وروسته کړه او خپل اُمّيدونه ئې اوګډه کړل، مرګ ئې هير کړې وو او دا به ئې وئيل چه صبا به توبه اوکړو، بل صبا به توبه اوکړو تر دې چه په هم دې غفلت کښې مَلَكُ الْمَوْت راغلو، هغوئی غافله پاتې شو او خپلو قبرونو ته اورسيدل. هغوئي ته نه مال، نه غلامانو، نه اولاد او نه مور او پلار څه فائِده ورکړه.

يَوْمَ لَا يَنْفَعُ مَالٌ وَّ لَا بَنُوْنَ ﴿۸۸﴾ اِلَّا مَنْ اَتَى اللّٰهَ بِقَلْبٍ سَلِيْمٍ ﴿۸۹﴾

**مفهُوم ترجمه کَنزُ الاِيمان: په کومه ورځ به چه نه مال په کار راځي او نه ځامن، خو هغه څوك چه د الله په بارګاه کښې حاضر شو د سلامت زړه سره.**

www.dawateislami.net

شبنم روتی ہے کہ نئے رنگِ جہاں کچھ بھی نہیں
خندہ زن ہیں بلبلیں اور گُل کا نشاں کچھ بھی نہیں

چار دن کی چاندنی ہے پھر اندھیری رات ہے
یہ تیرا حُسن وشَباب اے نوجواں! کچھ بھی نہیں

پرخه ژړيږي، د جهان رنګونه پاتې نه دي
بلبلان چغيږي، د ګل څه نښې پاتې نه دي

د دوه ورځو سپوږمۍ ده، بيا هم هغه توره شپه ده
دا ښکلا او ځواني اے ځلميه! ځې به دا پاتې نه دي

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د آخِرت د تيارئ کولو، د ګناهونوو د بچ کيدو د پاره، په نيکو باندې د استقامت موندلو د پاره او خپله ځواني په مدني رنګ کښې د رنګ کولو د پاره د دعوتِ اسلامي د مد ني ماحول سره هر وخت ترلي اوسئ، د سُنّتو د تربيّت د پاره د عاشِقانِ رسول په مدني قافلو کښې د سُنّتو نه ډك سفر اختيار کړئ او د کامياب ژوند تيرولو او د آخرت ښائِسته کولو د پاره په مدني اِنعاماتو عمل کوئ او هره ورځ د فکرِ مدينه په ذريعه د مدني اِنعاماتو رساله ډکوئ او هره مياشت ئې خپل ذمه دار ته جمع کوئ.

www.dawateislami.net

د سُنّتو نه ډکه په هفته واره اجتِماع کښې په پابندئ سره شرکت کوئ، په توبه باندې د استِقامت موندلو او د دې په باره کښې د تفصيلي معلوماتو حاصلولو د پاره د دعوتِ اسلامي د اشاعتي دارې مکتبةُ المدينه چاپ کړې شوې د 132 صفحو کتاب ''توبه کی رِوايات و حِکايات'' اولولئ او د ولئ کامِل د صُحبت او د علم او حکمت حاصلولو د پاره په مدني مُذاکره کښې شرکت کوئ، د بابُ المدينه نه باهر اسلامي ورونړه او اسلامي خويندې د مدني چينل په ذريعه حاضري ورکوئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## مدني چينل څه دې

د دعوتِ اسلامي د اشاعتي دارې مکتبةُ المدينه د چاپ کړې شوې کتاب ''غِيبت کی تباه کارياں'' په صفحه 86 کښې دي: اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د تبلِيغ قرآن و سُنّت د عالمګير غير سياسي تحريك دعوتِ اسلامي ګڼړ شمير شُعبې دي چه د هغې په ذريعه په دُنيا کښې د اسلام سپړلي خورول شي، په هغې کښې يوه شُعبه ''مدني چينل'' هم دې چه د هغې په ذريعه د دنيا په ډېرو ملکونو کښې د T.V په ذريعه کورونو کښې ورداخل شوې دې او د دعوتِ اسلامي پيغام عاموي. مدني چينل سل په سله په اسلامي رنګ کښې رنګ شوې د دنيا واحِد چينل دې چه په دې کښې نه فِلمونه او ډرامې شته، نه پکښې سندرې او باجې شته، نه پکښې د ښځو نُمائِش شته او نه پکښې د څه قِسم سازونه شته.

www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د مدني چينل په ذريعه ډير کافران د اسلام په لمن کښ راغلي دي، بيشماره بې نمازه د مونځونو پابند جوړ شوي دي او بيشماره خلق د ګناهونو نه توبه ګار شوي او په سُنّتو باندې عمل کونکي جوړ شوي دي. د مدني چينل د برکتونو د اندازې لګولو دپاره د دې يو مدني سپرلې اوګورئ ښنګه چه يو اسلامي ورور ما ته د اي. ميل (E.MAIL) په ذريعه يو مدني سپرلې پيش کړو، د هغې خلاصه دا ده: نن صبا حال دا دې چه اکثر د خبرو اترو په دوران کښ د دې خبرې اندازه نه کيږي چه د غِيبت سلسله شروع شوې ده! يو ځل د حيدرآباد (بابُ الاِسلام سِندھ) نه بابُ المدينه [کراچۍ] ته راغلي يو اسلامي ورور د يو څو اسلامي وروڼړو په موجودګۍ کښ اووئيل: زما يو دوست ما ته اووئيل چه زما خور چه هغه ډيره غُصّه ناکه ده، که کله د چا نه خفه شي نو بخپله څوك نه راضي کوي، زما د ورندار او د خور د يو څو معامِلاتو په وجه په خپل مينځ کښ کور وروان شو، خور مې ورسره خبرې اترې بندې کړې، اتفاقاً په هم هغه شپه د دعوتِ اسلامي د ټولو خوښ سل فيصده اسلامي مدني چينل باندې "مدني مُذاکره" نشر کړې شوه چه په هغې کښ د غِيبت د تباهيانو نه د بچ کيدو ذهن ورکړې شو. زما خور چه هغه مدني مُذاکره واوريدله نو اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زما هم هغه غصه ناکه خور چه هغې به څوك هم نه راضي کولو بخپله ورمخکښ شوه او هغې زما د ورندار نه معافي هم اوغوښتله او په دواړو کښ صلح هم اوشوه.

www.dawateislami.net

ناچ گانوں اور فلموں سے یہ چینل پاک ہے
مَدَنی چینل حق بیاں کرنے میں بھی بے باک ہے

مَدَنی چینل میں نبی کی سنّتوں کی دھوم ہے
اور شیطانِ لعیں رَنجور ہے، مَغمُوم ہے

د ګډا سندرو او فلمونو نه دا چينل صفا دي
مدني چينل په حق بيانولو کښې بې پروا دي

مدني چينل کښې د نبي سنّت ښودلې شي
شيطان لعين خفه دې ډير رټلې شي

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره کښې د سنتّو فضيلت او يوځو سنّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلوم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت، مصطفٰى جانِ رحمت، شمعِ بزمِ هِدايت، نَوشته بزمِ جنّت صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: "چا چه زما د سنّت سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چه زما سره محبّت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي." (مِشْکاةُ الْمَصابِيح،۱/۵۵ حديث: ۱۷۵)

سینہ تری سنّت کا مدینہ بنے آقا
جنّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

www.dawateislami.net

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا
جنّت کښې ګاونډې د ځان مې کړه خوږه آقا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## کور ته د تلو راتلو 12 مدني ګلونه

1. چه کله د کور نه اوځئ نو دا دعا لولئ:

بِسْمِ اللهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ

**ترجمه:** د الله عَزَّوَجَلَّ په نوم، ما په الله عَزَّوَجَلَّ باندې تَوَکّل اوکړو، د الله عَزَّوَجَلَّ نه بغير نه طاقت شته او نه قُوّت." (سنن ابی داؤد، ج ٤، ص ٤٢٠، حدیث ٥٠٩٥) اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ د دې دعا په برکت سره به په سمه لار اوسئ، د مُصيبتونو نه به په حفاظت کښې اوسئ او د الله عَزَّوَجَلَّ مدد به درسره شامِل وي-

2. کور ته د ننوتلو دُعا:

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ خَيْرَ الْمَوْلِجِ وَخَيْرَ الْمَخْرَجِ
بِسْمِ اللهِ وَلَجْنَا وَبِسْمِ اللهِ خَرَجْنَا وَعَلَى اللهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا

(اَيْضًا حديث ٥٠٩٦)

(ترجمه: اے الله عَزَّوَجَلَّ زه ستا نه د داخليدلو او وتلو خير غواړم. د الله عَزَّوَجَلَّ په نوم مونږ (کور ته) داخل شو او هم د هغه په نوم باهر

www.dawateislami.net

اووتلو او په خپل ربّ عَزَّوَجَلَّ مونږه يقين اوکړو ) د دعا کولو نه پس دِ کور والو ته سلام اوکړي بيا دِ په بارګاهِ رِسالت صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې سلام عرض کړي، د هغې نه پس دِ سُوْرَةُ لْاِخْلَاص شريف اولولي اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ په روزئ کښې به ئې برکت کيږي او د کورنو جنګونو نه به په امان کښې اوسي.

3. خپل کور ته په وتلو، ننوتلو کښې محارِمو او محرماتو (مثلاً مور، پلار، ورونړو خويندو، بال بچو وغيره) ته سلام کوئ-

4. د الله عَزَّوَجَلَّ د نوم اغستو مثلاً د بِسْمِ الله لوستلو نه بغير چه څوك کور ته داخليږي نو شيطان هم د هغه سره داخليږي-

5. که داسې مکان (که هغه خپل کور هم وي) ته ننوزئ چه په هغې کښې هيڅ څوك هم نه وي نو داسې اووائې: اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللهِ الصّٰلِحِيْنَ (يعنې په مونږه او د الله عَزَّوَجَلَّ په نيکو بندګانو دِ سلام وي) (ردالمحتار، ج٩، ص٦٨٢)

يا داسې اووائې: اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِىُّ (يعنې اے نبی په تاسو دِ سلام وي) ځکه چه د حضورِ اقدس صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاك روح د مسلمانانو په کورونو کښې تشرِيف فرما وي (شرح الشفاء للقارى،ج٢ ص١١٨)

6. چه کله د چا کور ته داخلیږئ نو داسې وائې: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ آيا زه دننه درتلې شم؟

7. که د داخلې اجازت در نه کړي نو په خوشحالئ بيرته اوګرځئ کيدې شي چه د څه مجبورئ په وجه د کور خلقو اجازت نه وي درکړې۔

8. چه کله څوك ستاسو دروازه اوټکوي نو سُنّت دا دي چه تپوس اوکړئ: څوك ئې؟ باهر کس ته پکار دي چه خپل نوم اوښائي: مثلاً او دِ وائي: "محمّد اِلياس." د نوم ښودلو په ځائ په دې موقع باندې "مدينه!"، "زه يم!"، "دروازه بيرته کړه" وغيره وئيل سُنّت نه دي۔

9. په جواب کښې د نوم ښودلو نه پس د دروازې نه يو ډډې ته اودريږئ ځکه چه که دروازه بيرته شي نو په کور کښې دننه هم نظر پرې نه اوځي۔

10. د چا کور ته سر ښکاره کول منع دي د ځينې خلقو د کورونو مخې ته لاندې طرف ته د نورو خلقو کورونه وي دوئي ته سخت احتياط پکار دې۔

11. چه د چا کره لاړ شئ نو د هغه د کور د انتظاماتو په باره کښې فضول خبرې مه کوئ په داسې کولو د هغه زړه ازاريدې شي۔

www.dawateislami.net

12. بیرته د تللو په وخت کښې د هغه کور والو په حق کښې دعا هم اوکړئ او د هغوئي شکریه هم ادا کړئ او سلام هم ورته اوکړئ او که کیدې شي نو کومه یوه د سُنّتو نه ډکه رساله وغیره هم ورته په تُحفه کښې ورکړئ.

په دلو دلو سنّتونه زده کولو د پاره د مکتبةُالمدینه دوه کتابونه(1) د 312 صفحو کتاب "بهارِشریعت" حصّه 16 او(2) د 120 صفحو کتاب "سنّتیں اور آداب"هدیه کړئ او اولولئ. د سنّتونو د تربیّت یوه غوره ذریعه د دعوتِ اسلامي په مدني قافِلو کښې د عاشِقانِ رسول سره د سنّتونو نه ډک سفر هم دې.

سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو
لُوٹنے رَحمتیں قافلے میں چلو

ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو
پاؤ گے برَکتیں قافلے میں چلو

د سُنّتونو د پاره قافله کښې لاړ شئ
د رحمتونو د پاره قافله کښې لاړ شئ


مشکلات به موشي حل قافله کښې لاړ شئ
اوموځئ به برکتونه قافله کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد


اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

## د سنّتو سپرلي

اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د تبليغ قرآن و سنّت عالمګيرغيرسياسي تحريک دعوت اسلامي په خوشبودارمدني ماحول کښې په کثرت سره سنّتونه زده کيږي او ښودلي شي، هره پنجشنبه (يعنې زيارت) د ماښام د مانځه نه پس ستاسو په ښار کښې کيدونکي د دعوت اسلامي په هفته واره اجتماع کښې د ټوله شپه تيرولومدني عرض دې، د عاشقانِ رسول سره په مدني قافلو کښې سفر، او هره ورځ د "فکرِمدينه" په ذريعه د مدني انعاماتو رساله ډکولو او د خپل ځائ ذمه دارته د جمع کولو عادت جوړکړئ. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د دې په برکت سره به دسنّتو د پابند جوړيدو، د ګناهونو نه د نفرت کولو او د ايمان د حفاظت دپاره د سوچ او فکر ذهن جوړيږي. هراسلامي ورور دې خپل دا ذهن جوړکړي چه "ماته د خپل ځان او د ټولې دنيا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د خپل ځان د اصلاح د کوشش کولو د پاره په "مدني انعاماتو" عمل او دټولې دنيا د اصلاح د کوشش د پاره په "مدني قافلو" کښې سفرکول دي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ










فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچئ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 1262

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net